د افغـــــــــــانستان اسلامي امارت
د کــــډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت
مـــــــــــــالي او اداري معينيت
د اطــــــــــلاعاتو او عامه اړيکو رياست
د اطــــــــــلاعاتو آمــــــــريت

# راستنيدنه عــودت

اونیز | هفته نامه



۸۶ مه ګڼه،مرغومي۱۴۰۴:لومړی مخ/ شماره ۸۶ جدی ۱۴۰۴:صفحه

## د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت لخوا د کډوالۍ د دايمي حل لپاره د جوړې شوې طرحې د مسودې د چارو بشپړولو په موخه له اړوندو وزارتونو او ادارو څخه د رامنځته شوي کاري ګروپ ګډه ناسته وشوه

دغه ناسته، چې د کډوالو او راستنېدونکو چارو د محترم وزير مولوي عبدالکبير په مشرۍ ترسره شوه، د اړوندو وزارتونو اداري مرستيالانو او استازو پکې برخه اخيستې وه.

د ناستې په پيل کې محترم مولوي عبدالکبير د ادارو معينانو او استازو ته ښه راغلاست وويل او زياته يې کړه، چې د اسلامي امارت تر بريا وروسته ۶،۸ ميليونه افغانان له ګاونډيو او ځينو نورو هېوادونو څخه په جبري او داوطلب ډول راستانه شوي او دغه شمېره د لوړېدو په حال کې ده.

محترم وزير زياته کړه، چې په افغانستان کې ثبات او پر ټولې جغرافيې د اسلامي امارت واکمني د کډوالۍ د کمېدو سبب شوې او بهر ته د کډوالو په شمېر کې د پام وړ کمښت راغلی دی.

محترم وزير د وينا پر دوام وويل، چې د کډوالۍ د دايمي حل او د داخلي بېځايه شويو ستونزو ته د رسېدني په برخه کې به د کډوالۍ د دايمي حل طرحه اغېزمنه اوسي او د اړوندو حکومتي او نړيوالو ادارو تر منځ به پر همغږۍ سربېره د مرستو جلب، اړتياوو پېژندل او کاري ساحه روښانه کړي.

د ناستې پر دوام د پوهنې، کرنې، مالدارۍ او اوبو لګولو، عامې روغتيا وزارتونو، افغان سرې مياشتې او د کابل ښاروالۍ معينانو او د ادارو استازو د کډوالۍ د دايمي حل د طرحې د مسودې په اړه خپل نظرونه شريک کړل او د يادې مسودې د غني کولو په موخه جوړه شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، تر څو د مسودې متن له ادارو سره شريک کړي او د راتلونکې ناستې لپاره چمتووالی ولري.



## په ګڼو ولايتونو کې نږدې ۳ زره کورنيو سره مرسته وشوه

په کابل، بدخشان، فراه، غور، زابل، جوزجان، ننګرهار، سرپل، بلخ، بادغيس او بغلان ولايتونو کې له ۲ زره ۹۵۴ بېځايه شويو، راستنو شويو، اړمنو کورنيو او کوربه ټولنو سره نغدي، خوراکي او غيرې خوراکي توکو مرستې وشوې.

د ولايتونو د راپورونو له مخې، د همکارو بنسټونو له لوري بدخشان کې له ۴۰۰ کورنيو سره د يوې يوې روغتيايي کڅوړې، فراه کې ۲۰۵ کورنيو سره د ۳ ميليونه ۹۱۸ زره او ۵۰۰ افغانۍ، غور کې ۵۰۰ کورنيو سره د يوه يوه ترپال او يوې يوې کمپلې، زابل کې ۴۰۰ کورنيو سره ۶ ميليونه ۲۸۰ زره افغانۍ، کابل کې ۲۴۸ کورنيو سره ۲ ميليونه ۳۱۵ زره افغانۍ او ۸ قلمه خوارکي او غيرې خوراکي توکو، جوزجان کې له ۴۹۶ کورنيو سره ۴ قلمه خوراکي او يو ميليون ۱۱۳ زره ۴۸۰ افغانۍ، ننګرهار کې ۳۲۸ کورنيو سره يوې يوې خېمې، يوې يوې بخارۍ او ۵۱۶ زره ۸۰۰ افغانۍ، سرپل کې ۵ کورنيو ته ۱۵۴ زره ۶۵۰ افغانۍ، بلخ کې ۲۲۶ کورنيو سره دوه قلمه خوراکي توکو او ۳۱۱ زره ۸۰۰ افغانۍ، بادغيس کې ۹۰ کورنيو سره يو ميليون ۱۹۷ زره ۸۳۴ افغانۍ او بغلان کې ۵۶ کورنيو سره ۳۰۸ زره ۴۰۰ افغانۍ مرسته وشوې.

همدارنګه په بغلان کې د همکارو بنسټونو له لوري ۲۴ مېرمنو سره د خياطۍ ۳۱ ډوله وسايلو، په غور کې ۲۷ معلولو سره د ويلچرونو، امساوو او د سترګو لپاره د عينکو مرستې وشوې.



## وزيـر امـور مهاجريـن و عـودت کننـدگان بـا معيـن وزارت مخابـرات و تکنالـوژی معلوماتـی ديـدار کـرد

محترم مولوی عبدالکبير وزير امور مهاجرين و عودت کنندگان با ملا محمد امين جان عمری معين وزارت مخابرات و تکنالوژی معلوماتی ديدار کرد.

دراين ديدار آقای عمری، که شماری چند از نمايندگان هموطنان بازگشته نيز حاضر بود، مشکلات مهاجرين و راهکارهای حل آن مورد بحث و بررسی قرار گرفته نمايندگان مهاجرين بازگشته پيشنهادات خود را در رابطه با شهرک ويژه مهاجرين درشهر مزار شريف با محترم وزير مهاجرين درميان گذاشته افزودند: مهاجرين بازگشته در ولايت بلخ علاوه بر سرپناه دائمی، به کمک های اوليه نيز نياز دارند.

محترم مولوی عبدالکبير ضمن خوشامدگويی به معين وزارت مخابرات و تکنالوژی معلوماتی و هيئت همراه وی، رسيدگی به مشکلات عودت‌کنندگان را از اولويت‌های ادارات ذيربط امارتی عنوان کرده و خاطرنشان ساخت که پيشنهاد شهرک در مزارشريف با کميسيون عالی مهاجرين در ميان گذاشته خواهد شد.

ايشان همچنين اظهار داشتند که برای توزيع کمک به عودت‌کنندگان در مزارشريف اقدام خواهد شد و ادارات مربوطه در اين امر دست به کار خواهند شد.

## ده ها تن مهاجر پس از آزادای از زندان های پاکستان برگشت نمودند

۵۰ تن از افغان های مهاجر محبوس که در زندان های کشور پاکستان حبس بودند، رها و پس از آزادی به کشور برگشت نمودند.

به اساس معلومات آمريت انتقالات مهاجرين رياست امور مهاجرين و عودت کننده گان ولايت قندهار در سپين بولدک افراد ياد شده در بخش های مختلف پاکستان بازداشت شده بودند و مدت يک روز الی ۲ ماه را دربند بودند که پس از ثبت درآن آمريت و دريافت مساعدت های بشری به محلات اصلی شان انتقال شدند.

